**د (ب) برخه:  د کرهنیزه کار او بار لپاره د سوابقو او اسنادو د ساتني پر مقصد پوهیدل**
دریم لوست:  د بیلانس پانه، د پیسو د جریان صورت او د عاید صورت  پیژندنه او درک

**د زده کوونکو روزنیزي موخي:**

ددي لوست په پایله کي به زده کوونکي لاندي موخو او  هدفونو ته ورسیږي:

۱.	د میزان یا بیلانس (Balance sheet)  د پاڼی تشریح او له هغه څخه ګټه اخستنه.
۲.	د صورت درآمد (Income statement)  د شرحی تشریح او له هغی څخه ګټه اخستنه.
۳.	د نغدو پیسو د شرحی (cash flow statement) تشریح او له هغی څخه استفاده.
٤.	د مالی تشریحاتو څخه په استفادی سره د کار او بار د بریالیتوت تشریح.

**د لوست لپاره په نظر کی نیول شوی وخت:**  ۴ ساعته

**د سرچینو سپارښتنه :** لاندنی سرچینی  کیدای شی ددی لوست د تدریس لپاره ګټوری ثابتی شی

- ددی درسی پلان لپاره کمپیوتري  پاورپاینټ  پروګرام هم چمتو شوی دی.

Decisions & Dollars. Alexandria, Virginia: The Council for Agriculture Education, 1993. (Curriculum Binder, Unit II.B)

**د سامان آلاتو، وسایلو او اړینو تجهیزاتو لسټ:**

سپینی پاڼي د لیکلو لپاره

پراجکټور

پاورپاینټ سلایډونه

شفاف سلایډونه

پاور پواینت د B3: برخی تشریح

پاورپاینټ  B3:WS 3-1  مالی صورته

دکاری پاڼو کاپی WS 3-1

LS:2-1 دنده د زده کوونکو لخوا بشپړه کیږی.

د میزان یا بیلانس د پاڼی کاپی

د آمد د صورت شرحه

د نغدو پیسو د جریان شرحه

د  LS 3-1 کاپی

**اصطلاحات:** دغه لاندی اصطلاحات په دغه لوست کی بیانیږی: (په ۲ پاورپاینټ سلاید کی هم ذکر شوی دی )

- **Assets** جایداد یا دارایي
- **Accounts Payable** د ورکولو وړ حسابونه
- **Accounts Receivable**د رسیدلو وړ حسابونه
- **Balance Sheet**د بیلانس پاڼه
- **Cash Flow Statement** د پیسو د جریان صورت
- **Cash Flow Coverage Ratio** د پیسو د جریان د پوښښ نسبت
- **Current Assets**جاري داراي
- **Current Liabilities** جاري قرضونه
- **Current Ratio** اوسني نسبت
- **Custom Work** د ګمرکاتو کار
- **Debenture** د قرضي اسناد
- **Debt-to-Asset Ratio** د قرضي نسبت دارایي ته
- **Debt-to-Equity Ratio** د قرضي نسبت متصدي ته
- **Equity-to-Asset Ratio**د متصدي نسبت دارایي ته
- **Expenditures** لګښتونه
- **Feasibility** د تطبیق او عملی کیدنی امکانات
- **Income Statement** د عاید صورت
- **Liabilities** قرضونه چي باید ورکول شي
- **Liquidity** نغدینګي یا هغه جنسونه چي په آساني سره په نغدو پیسو بدلیدلاي شي .
- **Long-term assets** اوږد مهاله دارایي
- **Long-term liabilities** اوږد مهاله قرضونه
- **Net income** سوچه آمد
- **Operating Loan** عملیاتي قرض
- **Operating Profit Margin Ratio**
- **Owner's Equity** د څښتن ملکیت
- **Profitability** ګټورتوب
- **Return on Assets** په دارایي باندي عاید
- **Return on Equity** د کار او بار د څښتانو په سهامو باندی آمد.
- **Revenue** عایدات
- **Risk** خطره
- **Solvency** د قرض ادا کوني وړتیا او توانایی.
- **Working Capital** جاري ( ګردش کي) سرما یه

**په زړه پوری میتود او کړنلاره:** له زده کوونکو څخه غوښتنه وکړئ تر څو د ټولو هغو شیانو نرخ او ارزښت تعین کړی چی دغه اوس اوس یی دځان سره لری. دغه شیان کیدای شی کالی، قلم ، کاغذ او داسی نور شیان چی دوی یی له ځان سره لری، وی . له هغوی څخه ددی غوښتنه هم وکړی تر څو د شیانو لپاره د ارزښت اصطلاح لکه سوچه ارزښت ( Net worth) او داسی نور هم استعمال کړی. له هغوی څخه دا پوښتنه هم وکړی چی دوی داسی فرض کړی چی ۲۰۰ افغانی په بل چا هم قرض لری، نو ددوی مالی صورت حال به له څه قراره وی؟

**د محتویاتو لنډیز او د لوست کړنلای او استراتیژیګانی**

** ددی لپاره چی زده کوونکو سره ښه مرسته شوی ترڅو دوی د لوست مفاهیم او اصطلاحات زده کړی، نو له زده کوونکو څخه غوښتنه وکړی تر څو د مالی صورت د معلوماتو کتاب هم د دریو ټوټو پاڼو (کاغذو) په وسیله چمتو کړی پاڼی باید سره یوځای شی تر څو دیوی کتابچی په ښه جوړ شی زده کوونکو ته وخت ورکړی ترڅو د کتابچی یو یو جلد ځانونو لپاره برابر کړی ، هغی کتابچی ته باید عنوان او نوم ورکړی. "Financial Statement Know Book". ( دمالی

صورت حال د معلوماتو کتاب) زده کوونکی باید هر پانی او صفحی ته شمیره ورکړی. زده کوونکی دی د کتاب پوښ شاته د صفحی شمیره له ۱ څخه پیل کړی او تر ۱۰ پوری دی دوام ورکړی . اوس نو ښوونکی کولای شی له پاورپاینټ سلایډونو څخه د تشریح لپاره استفاده وکړی او زده کوونکی کولای شی د ښوونکی تشریحات پخپلو کتابچو کی ولیکی.

**لومړی هدف:** د میزان یا بیلانس د پاڼی تشریح او له هغه څخه ګټه اخستنه.
**د زده کوونکو لخوا وړاند وینه:** د میزان یا بیلانس پاڼه څه شی دی او څرنګه له هغی څخه کار اخستل کیږی؟

**(۳ شمیره پاورپاینټ سلایډ**

۱. **د میزان پاڼه (Balance Sheet)** : د مالي حساباتو له هغه صورت څخه عبارت ده چي د یوه تجارت (کار او بار) دارایي، قرضونو او سوچه ګټو په اړه لنډ معلومات وړاندي کوي. که چیري د میزان (بیلانس) پاڼه په دقیقه او سمه توګه چمتو شوي وي، نو دغه پاڼه کولاي شي په یوه ځانګړي نیټه کي د هغه کار او بار د دارایانو، قرضونو او سوچو ګټو په اړه معلومات ورکړي. د میزان پاڼه **(Balance Sheet)** باید د موجوده اسنادو او ریکارډونو او نورو اړینو معلوماتو پر اساس چمتو او برابر شي.

**(۴ شمیره پاورپاینټ سلایډ**

الف) **دارايي (Assets) :**هغه جنسونو او اقلامو ته ویل کیږی چی په یو تجارت ( کار او بار) پوری اړه ولری او د ارزښت لرونکی وی. د میزان د پاڼی په څنډه کی چی کومی کټګوری موجودی دی هغه عبارت دی له : جاری دارایګانو او اوږد مهاله دارایګانو (current assets and long-term assets)

۱. **جاری دارای ( Current assets)** : هغه اقلام او داری ته ویل کیږی چی دیوه کال په بهیر کی یا په مصرف رسیږی یا خرڅیږی.

الف) **نغده پیسی (Cash):** له هغو پیسو څخه عبارت دی چی د کار او بار د بیړنی او عاجل لګښت لپاره په لاس کی موجودی وی.

ب) **د رسیدو وړ حسابونه ( Accounts receivable):** هغه پیسی دی چی د نورو کسانو لخوا کار او بار ته واجب الادا دی.

ت) **د موجودی لسټ (Inventory):** له هغو اجناسو څخه عبارت دی چی د خرڅلاو لپاره زیرمه شوی یا هغه توکی دی چی د تولید په پروسه کی ورڅخه کار اخستل کیږی.

**(۵ شمیره پاورپاینټ سلایډ**

۲. **اوږد مهاله دارای ( Long-term assets):** هغه قلمونه او اجناس دی چی د یوه کال څخه د زیاتی ګټی اخستنی عمر لری.

الف) **اوږد مهاله دارای ( Long-term assets)** هغه قلمونه او اجناس دی چی د یوه کال څخه د زیاتی ګټی اخستنی عمر لری. اوږد مهاله دارای شامله ده پر: ماشین آلاتو، سامان آلاتو، هغه ځاروی چی د نسل دا صلاح لپاره ساتل کیږی، تعمیرات او هغه ځمکه چی په کار او بار پوری تړاو لری.

۳. تولیزه یا مجموعی دارای مساوی ده د د جاری دارای او اوږمهاله دارای له جمعی سره.

**(۶ شمیره پاورپاینټ سلایډ**

**ب) واجب الاداء قرض (Liabilities) :**هغه قرضونه چی تجارت له یو شخص یا موسسی څخه قرض اخستی او بیرته ادا کیږی. د مالی صورت د واجب الادا په لوری کی دری کټګوری موجودی دی چی عبارت دی له جاری قرضه، اوږد مهاله قرض او تولیزه یا مجموعی قرض.

۱. **جاری قرضونه ( Current liabilities):** دا هغه قرضی دی چی د یوه کال په دننه کی باید ادا شی.

الف) **د ورکړې وړ حسابونه ( Accounts payable):** هغه پیسې دي چې کار او بار له نورو څخه قرضدار دی او باید نورو ته یې ادا کړي.

ب) هغه قرضونه چې باید په یوه کال کې دننه دننه ادا شي هغه تر جاري قرض لاندې (Current liabilities ) لیکل کیږي.

ت) **د کرایې اداء** هغه پیسې دي چې د ځمکې، تعمیر یا بل شي لپاره باید بل شخص یا ادارې ته ورکول شي.

**(۷ شمیره پاورپاینټ سلاید)**

**۲. اوږد مهاله قرضه ( Long-term liabilities):** مشتمله ده پر بانډ، لاس ته راغلي یا نه راغلي یاداشت د اوږد مهاله قرضونو سند. **د اوږد مهالی قرضی سند (debenture)** له هغه سند یا ګواهنامې څخه عبارت ده چې په امضا کوونکې باندې قرضه تصدیقوي.

۳. **ټولیزه واجب الاداء (Total liabilities)** دیوه د جاري او اوږد مهاله قرضونو له مجموعې څخه عبارت دی.

**(۸ شمیره پاورپاینټ سلاید)**

پ) **سوچه ارزښت ( Net worth)** مساوي کیږي ټوله دارای منفي قرضونه.
سوچه ارزښت د **( owner's equity)** په نوم هم یادیږي.

ت) د میزان پاڼه(Balance Sheet) په یوه ځانګړي وخت کې دیوه تجارت مالي سلامتیا په ګوته کوي. دغه مالي صورت د کار او بار وړتیا ښيي چې د ټولې دارای په خرڅولو سره ټول قرضونه اداء کولای شي.

**دوهم هدف:** د صورت درآمد د شرحې (Income statement) تشریح او له هغې څخه ګټه اخستنه

**د زده کوونکو لخوا وړاندې وینه:** صورت در آمد څه شی دی او څرنګه ورڅخه ګټه اخستل کیږي؟

**(۹ شمیره پاورپاینټ سلاید)**

II. **د عاید صورت یا شرحه ( income statement)** هغه شرحه یا صورت دی چې د کار او بار د خسارې او ګټې تفصیل دیوه ځانګړي وخت لپاره په ګوته کوي. لکه په میاشتنی، دری میاشتني او کلني توګه.**د عاید شرحې** ته د خسارې او ګټې شرحه هم ویل کیږي. د عاید په شرحه کې دری عمده برخې شاملې دي: آمد، لګښت او غیر کار او باری در آمد. revenue, expenses, and non-business income د عاید شرحه یا صورت باید د مالي له لومړنیو ریکارډونو ( لګښت او عاید) څخه چمتو شي.

**(۱۰ شمیره پاورپاینټ سلاید)**

**الف)** **آمد (Revenue)** د هغو نغدو پیسو له وصول څخه عبارت دي چې د خدمتونو د وړاندې کولو یا د تولیداتو د خرڅلاو څخه لاس ته راغلي وي چې په یوه وخت کې خرڅ شوي دي او د عاید په شرحه کې ښودل شوي وي.

**۱.** (Commodities sold) خرڅ شوي کالي یا جنسونه د زراعتي تجارت د تولیداتو خرڅونه ده.

۲. **ګمرکي کار ( Custom work)** هر هغه خدمت یا کار ته ویل کیږي چې د بل شخص یا تجارت لپاره د ورکړې په بدل کې بشپړه کیږي.

**(۱۱ شمیره پاورپاینټ سلاید)**

۳. کله چې د جنسونو په موجودي کې بدلون راځي هغه باید د **عاید په شرحه** کې شامله شي. په موجودي کې

بدلون، مساوی کیږی له ټولیزه مجموعی د موجودی په لومړی ورځ منفی د بدلون وروستنی ورځ.

الف) کله چې د موجودی (inventory) بدلون او تغیر ثبتیږی باید ډاډ تر لاسه شی چې د منفی یا مثبت علامی ثبتیږی، تر څو پدی توګه د محصولاتو د تجارت په محاسبه کی له دقت څخه کار واخستل شی.

**(۱۲ شمیره پاورپاینټ سلایډ)**

**ب) لګښتونه (Expenses)** د هغه مصرف او لګښت څخه عبارت ده چې د جنس یا خدمت د تولید لپاره لګیږی.

۱. **عملیاتی لګښت (Operating):** له هغه منظم لګښت یا مصرف څخه عبارت دی چې دیوه تجارت (کار او بار) د فعالیتونو لپاره ترسره کیږی.

**(۱۳ شمیره پاورپاینټ سلایډ)**

پ) هر هغه غیر کار او باری آمد چې د کار او بار د څښتن په وسیله لاس ته راځی د **عاید په شرحه** کی شامله کیږی. دغه کار دیوی کورنی د سوچه عاید لپاره ډیر اړین او ګټور دی، کله چې د محصولاتی کار او بار سوچه عاید حسابیږی دغه آمد باید په پام کی ونه نیول شی.

ت) سوچه در آمد ( Net income) د عاید څخه د لګښتونو له منفی څخه عبارت دی.

**دریم هدف:** د نغدو پیسو د شرحی (cash flow statement) تشریح او له هغی څخه استفاده.

**د زده کوونکو لخوا وړاند وینه:** د نغدو پیسو د جریان شرحه یا صورت څه شی دی او څرنګه کارول کیږی؟

**(۱۴ شمیره پاورپاینټ سلایډ)**

III. **د نغدو د جریان شرحه (cash flow statement):** له کار او باری خلکو سره مرسته کوی تر څو دخپل مالی حالت شننه او تجزیه وکړی. **د نغدو د جریان شرحه:** په یوه ځانګړی وخت کی د یوه کار او بار عایدات او لګښتونه څرګندوی. که چیری د نغدو د جریان شرحه په دقیقه او سمه توګه ترسره شوی وی، نو له کار او باری خلکو سره مرسته کوی تر څو لګښتونه په اغیزناکه توګه اداره او تنظیم کړی. د نغدو د جریان شرحه د مالی اسنادو له لومړنیو مدارکو ( لګښتونه او عایداتو) څخه چمتو کیږی.

الف) د نغدو د جریان شرحه کیدای شی د دوو موخو لپاره وکارول شی: د تیر وخت د ریکارډ په توګه، چې د نغدو د واقعی جریان (actual cash flow) په نوم یادیږی. یا د راتلونکی لپاره د وړاند وینی یا تجسم په توګه.پدی اړه دا اړینه او مهمه خبره ده چې د نغدو د جریان په شرحه یا صورت باندی باید دا څرګنده وی چې آیا د پیسو د جریان شرحه واقعی ده او که پیش بینی شوی ( وړاند وینه شوی)

**سلاید شماره ۱۵ پاور پواینت**

ب) عاید او لګښت باید د هری میاشتی لپاره په مناسب ستون کی ثبت شی. که چیری معلومات پدغه ډول ثبت شوی، نو دا به په آسانی سره درک شی وجوه او سرچینو ته په کوم کی وخت اړتیا ده. کله چې اړتیا وی کیدای شی عملیاتی قرض تر لاسه شی تر څو لګښتونه اداره او تنظیم شی.

۱. **عملیاتی قرضه ( Operating loans)** هغه پیسی دی چی په امانته یا په قرضه توګه اخستل شوی او د یوه کال په دوران کی بیرته ورکول کیږی.

۲. د زراعتی کار او بار ښتن کیدای شی په راکړه ورکړه کی څه بدلونونه او تغییرات په پام کی ولری، د بیلګی په توګه د ځینو جنسونو زیرمه کول تر څو یی په راتلونکی کی خرڅ کړی یا پیرودنی ته تر بل کاله پوری انتظار وباسی.

۳. ګزینه دیګری که می توان در نظر ګرفت عبارت است از اضافه کردن تشبث دیګری بمنظور بدست آوردن عاید بر حسب ضرورت. در صورت اتخاذ این ګزینه لازم است بعضی عوامل را در نظر ګرفت زیرا تنها تشبث دیګر نه تنها عاید بیشتری را بدست خواهد آورد، بلکه مصارف بیشتری را نیز دربر خواهد داشت.

**(۱۶ شمیره پاورپاینټ سلاید)**

پ) بل اختیار چی کیدای شی په پام کی ونیول شی هغه دا ده چی کیدای شی کوم بل تشبث په کار او بار کی علاوه شی. کله چی دا ډول تشبثات غوره کیږی ډیر عوامل او فکتورونه باید په پام کی ونیول شی، دا ځکه چی نه یواځی ډیر عاید به لاس ته راځی بلکی ډیر لګښت هم ایجابوی. د نغدو مخکنی میزان یا بیلانس باید د نغدو د جریان د شرحی په لومړنی قطار کی لسټ شی. دغه میزان هغه پیسی دی چی کار او بار یی لری.

ت) **عملیاتی عاید ( Operating income)** هر هغه عاید ته ویل کیږی د زراعتی کار او بار د تولید د خرڅولو یا د خدمتونو د وړندی کیدلو څخه لاس ته راځی.

ث) **پانګه یزه درآمد ( Capital income)** هغه عاید ته ویل کیږی چی د پانګه یزه جنس د خرڅلاو څخه لاس ته راځی.څاروی د نسل ګیری لپاره او سامان آلات کیدای شی خرڅ شی چی همدغه د پانګه یزه درآمد بیلګی دی.

ج) د موجوده نغدو پیسو مجموعه مساوی کیږی د عملیاتی او پانګه یزه عاید له جمع څخه.

**(۱۷ شمیره پاورپاینټ سلاید)**

ح) **عملیاتی لګښتونه (Operating Expenses)** هغه منظم لګښتونه چی د جنسونو د تولید یا د وړاندی شویو خدمتونو په مقابل کی ترسره کیږی.

خ) **پانګه یزه لګښتونه ( Capital Expenses)** هغه پیسی دی چی تجارت ته د پانګه یزه جنسونو په پیرودنه کی لګول کیږی.

د) پول پول مجموعی مورد نیاز عبارت از مجموع مصارف عملیاتی و مصارف سرمایوی است. تولیزه پیسو ته چی اړتیا ده هغه عبارت دی له: عملیاتی لګښت + پانګه یزه لګښت.

**(۱۸ شمیره پاورپاینټ سلاید)**

ذ) **(Cash Available Less Required)** نغدی موجوده پیسی منفی د اړتیا وړ پیسی: له هغو ټولو پیسو منفی د اړتیا وړ له مجموعی څخه عبارت دی. دا هغه پیسی دی چی د یوه ځانګړی وخت څخه وروسته باقی پاتی کیږی.

**ځلورم هدف:** د مالی تشریحاتو څخه په استفادی سره د کار او بار د بریالیتوت تشریح.

**د زده کوونکو لخوا وړاند وینه:** د کار او بار کره والي و دقت د مالی د وضعیتونو له شرحی څخه څرنګه په ګوته کیږی؟

**(۱۹ شمیره پاورپاینټ سلاید)**

IV. د میزان پانه، د عاید شرحه او د نغدو د جریان شرحه یو له بل سره تړاو لری اود کار او بار سلامتیا څرګندوی.د کار او بار سلامتیا د کار او بار د **(Feasibility, Risk, Profitability)** په ذریعه معلومیدای شی. هر یوه یی په جلا توګه تشریح کیږی .

**(۲۰ شمیره پاورپاینټ سلاید)**

الف) د ترسره کیدنی وړتیا **(Feasibility)** له دی څخه عبارت ده چی کار او بار څومره په ښه توګه کولای شی پلان په بریالیتوب سره بشپړه کړی.

**(۲۱ شمیره پاورپاینټ سلاید)**

۱. **د قرضو د ادا وړتیا یا نغدینګی (Liquidity)** له هغی وړتیا څخه عبارت ده چی قرضونه او بلونه یی له دی چی د کار او بار په عادی فعالیتونو کی کوم اخلال را منیځ ته کړی،ادا شی. د قرضو د اداء وړتیا (Liquidity) په دریو لارو اندازه کیدای شی : په دوران کی پانګه، جاری تناسب او د نغدو پیسو د جریان د پوښش تناسب.

**(۲۲ شمیره پاورپاینټ سلاید)**

الف) جاری یا په دوران کی پانګه ( **Working capital**) دا په ګوته کوی چی آیا جاری دارای د جاری قرضونو په پرتله ډیره ده که یه! د میزان پانه د پانګي په تشخیص او په ګوته کولو کي مرسته کوي. جاري پانګه ( **Working capital**) څرنګه معلوميداي شي؟ جاري داراي منفي جاري قرضونه مساوي ده په جاري پانګه سره.

i. هر څومره چي د جاري پانګي اندازه لوړه وي په همغه اندازه د قرض ورکوني وړتيا او توانايي لوړه وي. دا بايد په ډاګه شي چي د جاري پانګی اندازه د تجارت يا کار او بار په ماهيت،کچه او اړتيا پوري تړاو لري.

**(۲۳ شمیره پاورپاینټ سلاید)**

ب) جاري تناسب ( **current ratio**) دا په ګوته کوي چي که چيري د جاری قرضونو د اداء کولو لپاره د جاري داراي خرڅلاو ته اړتيا پيښه شي نو کفايت يي کوي.

**جاري داراي تقسيم پر جاري قرضونو = جاري تناسب**

I. د ميزان پانه د جاري تناسب په معلومولو کي مرسته کولاي شي جاري تناسب يا نسبت داسي لاس ته راځي چي: جاري داراي تقسيم پر جاري قرضونو = جاري تناسب

ii. د منلو وړ جاري تناسب يا نسبت (۱) ده. او(۱،۵) جاري نسبت يوه تجارت ته دا وړتيا ورکوي تر څو په نرخونو کي د سترو بدلونونو او نورو ستونځو په وړاندي پايښت او مقاومت وکړي. هر څومره چي نسبت لوړ وي، په همغه اندازه تجارت يا کار او بار د قرض اداء کوني (نقدينګي) وړتيا لري.

**(۲۴ شمیره پاورپاینټ سلاید)**

پ) د نغدو پيسو د جريان د پوښش نسبت (**Cash flow coverage ratio**) ، هغه مهمي کټګورياني تر ځارني لاندي نيسي چي په نغدي جريان باندي اغيزه کوي.

I. د واقعي نغدي جريان شرحه د نغدو پيسو د جريان د پوښښ په نسبت معلومولو کي مرسته کوي. د نغدو پيسو د جريان د پوښښ نسبت عبارت دي

د پیل نغدي پیسي، جمع ټولي هغه نغدي پیسي چي د عملیات څخه لاس ته راغلي ، تقسیم پر ټولو هغو نغدو پیسو چي د عملیات د بشپړه کیدو او قرضو نو لپاره ورکول کیږي.

II. لکه دوراني پانګه او جاري نسبت، هر څومره چي ارزښت او نسبت لوړ وي، نو په همغه اندازه تجارت یا کار اوبار نغدینه ډیره لري.

**(۲۵ شمیره پاورپاینټ سلاید)**

ب) د تجارت (کار او بار) په ترسره کولو کي احتمالي زیان تل موجود وي. دغه احتمالي خطره کیداي شي دا وي چي ګټه لاس ته رانشي، یا هغه شیان چي پلان کي یي وړاندوینه شوي کیداي شي عملي نشي.
مخاطره د کار او بار ددي وړتیا په پام کي نیولو سره تشخیص او تعینداي شي چي آیا د قرض د تادیي وړتیا (**solvency**) لري که یه!

**(۲۶ شمیره پاورپاینټ سلاید)**

۱. د قرضي د ورکړي وړتیا(**Solvency**) ټوله داراي د ټولو قرضونو په مقابل کي اندازه کوي. د قرضي د ورکړي وړتیا په دریو طریقو باندي اندازه کیږي:**د قرض نسبت دارای ته، د څښتن دسهم نسبت داري ته ، دقرض نسبت د څښتن د سهم ته.**

**(۲۷ شمیره پاورپاینټ سلاید)**

i. **الف)** که چیري دیته اړتیا پیښه شي چي قرض د داراي د خرڅلاو له لاري تادیه شي نو ( **debt-to-asset ratio**) یا د قرض نسبت داراي ته دغه ارزښت اندازه کوي.

ii. د میزان پاڼه د قرض نسبت داراي په اندازه کولو کي مرسته کوي.

iii. د قرض نسبت داراي ته (**debt-to-asset ratio**) د ټولو قرضونو مجموعه تقسیم پر ټوله داراي څخه عبارت دي.

iv. په هره اندازه چي نسبت لږ یا ټیټ وي، په همغه اندازه کار او بار کولاي شي ډیر احتمالي زیان وګالي.

**(۲۸ شمیره پاورپاینټ سلاید)**

**ب)** ( **equity-to-asset ratio**) دغه نسبت ټوله دارای چی د کار او بار په وسیله سره اداء کیږی اندازه کوی.د بیلانس یا میزان پاڼه د غه نسبت په ګوته کوی سوچه ارزښت یا ( **equity-to-asset ratio**) د شرکاؤ د سهمونو مجموعه تقسیم په ټوله دارای باندی. هر څومره چی نسبت لوړ وی، نو په همغه اندازه کار او بار خطره زغملی شی.

**(۲۹ شمیره پاورپاینټ سلاید)**

پ) د قرضي نسبت د تجارت شریکانو ته (**debt-to-equity ratio**) دغه معادله د داراي په عوض، قرض د کار او بار د شریکانو تر مینځ اندازه کوي.د میزان پاڼه د قرضي نسبت د کار او بار شریکانو ته په ګوته کولو کی مرسته کوي.دقرضي نسبت د تجارت شریکانو ته عبارت ده، د ټولي قرضي له مجموعي تقسیم د شریکانو پر سهمیه باندي.هر څومره چي نسبت لږ یا ټیټ وي ، په همغه اندازه کار او بآر زیان یا مخاطره زغملي شي.

**(۳۰ شمیره پاورپاینټ سلاید)**

**پ)** عاید پر دارای( **return on assets**) اندازه کوی چی پیسی د کار او بار د دارایګانو په مقایسه څومره په

چټکتیا سره لاس ته راځی.

– د آمد شرحه ( **income statement**) د عاید پر دارای په معلومولو کی مرسته کوی. عاید پر دارای عبارت دی د کار او بار له سوچه آمد منفی د مزدورانو نا ور کول شوی مزد تقسیم د شریکانو پر مجموعی دارای باندی.
– څومره چی نسبت لوړ وی، په همغه اندازه کار او بار ګټور دی

**(۳۱ شمیره پاورپاینټ سلاید)**

۱. د کاری شریکانو په سهم عاید (**return on equity**) دا اندازه کوی چی دکاری شریکانو پیسی په څومره چټکتیا سره لاس ته راځی.

الف) د کاری شریکانو په سهم عاید (**return on equity**) دا اندازه کوی چی دکاری شریکانو پیسی په څومره چټکتیا سره لاس ته راځی.د عاید شرحه د کاری شریکانو د عوایدو په تعیین او تشخیص کی ښه مرسته کولای شی. د کاری شریکانو عواید( **return on equity**) مساوی ده د کار او بار له خالص عاید منفی د کارګرانو ټول قرض تقسیم د شریکانو پر سهم باندی.
– هر څومره چی نسبت لوړ وی په همغه اندازه د کار او بار ګټورتوب لری.

**(۳۲ شمیره پاورپاینټ سلاید)**

۲. عواید د کاری شریکانو په سهم (**return on equity**) دا اندازه کوی چی دکاری شریکانو پیسی په څومره په چټکتیا سره لاس ته راځی.

الف) د عاید شرحه د کاری شریکانو د عوایدو په تعیین او تشخیص کی ښه مرسته کولای شی.عواید د کاری شریکانو ( **return on equity**) مساوی ده د کار او بار له خالص عاید منفی د کارګرانو ټول قرض تقسیم د شریکانو په سهم باندی.

ب) هر څومره چی نسبت لوړ وی په همغه اندازه د کار او بار ګټورتوب لری.

**(۳۳ شمیره پاورپاینټ سلاید)**

۳. د عملیاتي ګټي د توپیر نسبت، هغه پیسي اندازه کوي چي د ناخالصه عاید څخه دیوه دالر په حساب پانګي ته راګرځي.

الف) د عاید شرحه ( **income statement**) د عملیاتي ګټي د توپیر د نسبت په تشخیص کي مرسته کوي.د عملیات ګټي د توپیر نسبت د کاراو بار له سوچه عاید منفي د مزدور مزد – تقسیم د زراعتي تولید په نرخ او ارزښت.

ب) هر څومره چي نسبت لوړ وي، په همغه اندازه به کار او بار ډیر ګټور وي.

ددی لپاره چی زده کوونکی پر لومړی، دوهمه او دریمه موخه باندی ښه تسلط پیدا کړی، له زده کوونکو څخه غوښتنه وکړی چی کاری پانه (**WS:3-1**) بشپړه کړی تاسو کولای د مالی وضعیت او مالی صورت یا شرحی څخه چی په (**B:3**) کی ذکر شویدی او هم د پاورپاینټ سلایډونو څخه استفاده وکړی. ددغو توکو یوه یوه کاپی د زده کوونکو لپاره هم چمتو کړی، کیدای شی زده کوونکی د کاری پانو د تکمیل او بشپړه کیدو لپاره پوښتنی ولری، ښاغلی ښوونکی باید د ځوابونو لپاره له مخکی څخه چمتو وی. کله چی زده کوونکی کاری پانی پوره کړی ، د پوښتنو په اړه بحث او مناقشه وکړی . کیدای شی زده کوونکی د مفاهیمو د ښه درک لپاره نور تشریحاتو ته اړتیا ولری.

**بیاکتنه او لنډیز:** زده کوونکی په څلورو ګروپونو باندی تقسیم کړئ او هر ګروپ ته یوه ځانګړی دنده په ګوته کړی، له زده کوونکو څخه غوښتنه وکړی چی د لوست د موخو په رڼا کی یوه ترانه چمتو کړی، ددی لپاره چی له زده کوونکو سره مرسته شوی وی پدی اړه ښوونکی کولای شی د ترانو یو فهرست او لست برابر کړی.

**اجرا او تطبیق:** زده کوونکی باید LS:3-1 بشپړه کړی . ددی دندی د ترسره کولو لپاره زده کوونکی کیدای شی د مخکنی لوست LS:2-1 او همدارنګه د میزان دپانی، د نغدو پیسو د شرحی او د عاید د شرحی کاپی ته اړتیا ولری. پدی اړه له زده کوونکو سره ښاغلی ښوونکی مرسته کولای شی.

**ارزیابی:** د تحریری ازموینی بیلګه ددغه لوست سره ضمیمه ده.

**بیلګه ایزه ازموینې ته ځوابونه**

**لومړي برخه: تطابق (برابرول)**

1=c, 2=k, 3=g, 4=a, 5=e, 6=j, 7=h, 8=i, 9=b, 10=d, 11=f

**دوهمه برخه: پوره کول**

1=Balance sheet(دمیزان پاڼه) ; 2 = net income;(سوچه آمد) 3 = revenue(عاید) , expenditures (لګښتونه); 4 = Liquidity ;(په نغدو د اوړیدنی وړتیا) 5 = liabilities, assets (قرضونه، دارای)

**دریمه برخه: لنډ ځواب**

١. د نغدو پیسو شرحه یا صورت (Cash flow statements) کیدای شی ددی لپاره وکارول شی تر څو د مالی چارو په برخه کی زمونږ د وړتیا ښکارندوی وکړی ، داسی معلوماتو او ارقام په ګوتو کړی چی کیدای شی د راپور ورکولو لپاره اړین وی او باالآخره د قرضونو لپاره ضرورتونه او اړتیاوی په ګوته کړی.

٢.

هغه دری تدبیرونه چی د کار اوبار سلامتیا او صحت په ګوته کوی عبارت دی له: ١- د تطبیق د وړتیا او امکان مطالعه (feasibility) ٢- مخاطره (risk) ٣- ګټه ورکونه (profitability)

- د ترسره کیدنی وړتیا (**Feasibility**) له دی څخه عبارت ده چی کار او بار څومره په ښه توګه کولای شی پلان په بریالیتوب سره بشپړه کړی. او دا د نغدینګی ( د قرض د ورکړی د وړتیا ) په اساس اندازه کیږی.
- دغه احتمالي خطره (risk) کيداي شي دا وي چي ګټه لاس ته رانشي، يا هغه شيان چي پلان کي يي وړاندوينه شوي کيداي شي عملي نشي.
- ګټه ورکونه ((profitability) هغه پیسی دی چی تجارت یی د ټولو لګښتونو د اداء کولو وروسته لاس ته راوړی ګټه ورکونه په دریو لارو سره اندازه کیږی: عواید د دارای په مقابل کی. عواید د شریکانو د سهم په مقابل کی. د عملیاتی منفعت د نسبت تفاوت.

**نوم : ___________________________**

## Balance Sheets, Cash Flow, and Income Statements
## د میزان په پاڼه، د نغدو په جریان  او د عاید په صورت یا شرحه ځان پوهول

"احمد" د "کابل" د لبنیاتو دشرکت څښتن په ۲۰۰۷ میلادی کال کی د خپل زراعتی کار او بار په پلان باندی پیل وکړ او د خپل کار څخه ددغه زراعتی پلان لپاره په سپما شروع وکړه. احمد له خپل یو دوست څخه د ۲۰۰۸ میلادی کال په جنوری میاشت کی ۱۰۰ دالره قرض تر لاسه کړ تر څو دغه کار او بار پیل کړی. هغه دری د شیدو وزی، سطلونه او داسی نورو اړین توکی او مواد وپیریدل د اپریل په میاشت که وزو بچیان وزیږول. احمد څلور بچیان خرڅ کړل او دوه بچیان (سیرلی) یی ځان سره وساتل تر څو یی د منی تر موسم پوری وساتی او په منی کی یی پّ ښه بیه خرڅ کړی، احمد دغو بچیانو ته تر هغه پوری غذا او خوراکه وکولو تر څو هغوی په شیدو راغلل. احمد دغه لګښتونه دخپلی سپما څخه کول. اوس احمد غواړی چی تر څو پوه شی د کابل د لبنیاتو شرکت تر کومه حده بریالی ؤ. هغه اوس د ډیرو وزو په هکله فکر کوی .

**لارښوونه:** د مالی صورت په پام کی نیولو سره د احمد د لبنیات فارم تجزیه او تحلیل کړی، او لاندی پوښتنو ته ځواب ورکړی. ډاډ تر لاسه کړی  کله چی لاندی پوښتنی ته ځواب برابروی د مسئلی  ټولو برخو ته پاملرنه وکړی.

### نقدینګی (Liquidity)

جاری یا په ګردش کی  سرمایه  –(-Working Capital )

د جاری نسبت –(-Current Ratio )

(Cash Flow Coverage Ratio-)

### د قرضی د ورکړی وړتیا(Solvency)

د قرض نسبت دارای ته (-Debt-to-Asset Ratio)

د شریکانو د سهم نسبت دارای ته (-Equity-to-Asset Ratio)

د دارای نسبت د شریکانو سهمی ته (-Debt-to-Equity Ratio)

### ګټه ورکونه (Profitability)

عواید پر دارایګانو (-Return on Assets)

عواید د کار او باری شریکانو په سهمیه (-Return on Equity)

د عملیاتی منفعت د ګټی نسبت (-Operating Profit Margin Ratio)

۱.  آیا دا ویلاشی چی د کابل د لبنیاتو د شرکت سلامتیا ښه ده ، متوسطه ده او که د قناعت وړ نده؟ ولی؟
۲.  آیا ددی وړاندیز کوی چی د کابل د لبنیاتو شرکت د شیدو نورو وزی واخلی؟ ولی؟

**کلید WS: 3-1**

## Balance Sheets, Cash Flow, and Income Statements
## د میزان په پاڼه، د نغدو په جریان  او د عاید په صورت یا شرحه څان پوهول

"احمد" د "کابل" د لبنیاتو دشرکت څښتن په ۲۰۰۷ میلادی کال کی د خپل زراعتی کار او بار په پلان باندی پیل وکړ او د خپل کار څخه ددغه زراعتی پلان لپاره په سپما شروع وکړه. احمد له خپل یو دوست څخه د ۲۰۰۸ میلادی کال په جنوری میاشت کی ۱۰۰ دالره قرض تر لاسه کړ تر څو دغه کار او بار پیل کړی. هغه دری د شیدو وزی، سطلونه او داسی نورو اړین توکی او مواد وپیریدل د اپریل په میاشت که وزو بچیان وزیږول. احمد څلور بچیان خرڅ کړل او دوه بچیان (سیرلی) یی څان سره وساتل تر څو یی د منی تر موسم پوری وساتی او په منی کی یی ښه بیه خرڅ کړی، احمد دغو بچیانو ته تر هغه پوری غذا او خوراکه وکولو تر څو هغوی په شیدو راغلل. احمد دغه لګښتونه دخپلی سپما څخه کول. اوس احمد غواړی چی تر څو پوه شی د کابل د لبنیاتو شرکت تر کومه حده بریالی ؤ. هغه اوس د ډیرو وزو په هکله فکر کوی .

**لارښوونه:** د مالی صورت په پام کی نیولو سره د احمد د لبنیات فارم تجزیه او تحلیل کړی، او لاندی پوښتنو ته ځواب ورکړی. ډاډ تر لاسه کړی  کله چی لاندی پوښتنی ته ځواب برابروی د مسئلی  ټولو برخو ته پاملرنه وکړی

### د قرضی د ورکړی وړتیا(Solvency)

Working Capital- $22 - $20 = $2
Current Ratio- $22 / $20 = 1.1
Cash Flow Coverage Ratio- ($10 + $250) / $288 = 0.90

### د قرضی د ورکړی وړتیا(Solvency)

Debt-to-Asset Ratio- $100 / $122 = 0.82
Equity-to-Asset Ratio- $22 / $122 = 0.18
Debt-to-Equity Ratio- $100 / $22 = 4.55

### ګټه ورکونه (Profitability)

Return on Assets- $107 / $122 = 0.88
Return on Equity- $107 / $22 = 4.86
Operating Profit Margin Ratio- $107 / $395 = 0.27

**۱.   آیا دا ویلاشی چی د کابل د لبنیاتو د شرکت سلامتیا ښه ده ، متوسطه ده او که د قناعت وړ نده؟ ولی؟**

د زده کوونکو ځوابونه کیدای شی توپیر ولری-  د کابل د لبنیاتو د شرکت د سلامتیا او صحت  په اړه ( ښه ده ! یا په زړه پوری نده ) مناسبه تشریح  او  توضیح ده. دا څکه چی د کابل د لبنیاتو شریک فقط سږ کال دغه کار او بار پیل کړیدی، دغه کار او بار د ګټی په پرتله ډیر قرضداره دی، په راتلونکی کښی د کار او بار څښتن دیته اړتیا لری چی یا خپل لګښتونه کم کړی او یا ګټه ډیره او اوچته کړی، تر څو وکولای شی خپله  قرضه اداء کړی.( مثلاً  کیدای شی د کار په مقابل کی خپل اجرت کم کړی یا د ډیرو شیدو د تولید لپاره نوری وزی واخلی)

**۲.   آیا ددی وړاندیز کوی چی د کابل د لبنیاتو شرکت د شیدو نورو وزی واخلی؟ ولی؟**

د زده کوونکو ځوابونه کیدای شی توپیر ولری- ډاډ تر لاسه کړی چی د پوښتنو مثبت او منفی اړخونه  داوړه په پام کی نیول شویدی.
هو! دغه کار اوبار کوم عواید چی سږ کال لاس ته راوړی، ډیر به یی کړی، ولی په ورته وخت کی هغه اړ دی چی د تغذی لګښتونه هم لوړ کړی.
یه!  کار او بار په اوسنی وخت کی پیسی نلری تر څو وزی ورباندی واخلی،  نو څکه هغه راتلونکی کال نشی کولای چی ډیری پیسی لاس ته راوړی، د کابل د لبنیاتو شرکت کولای شی هغه بچیان چی سږ کال زیږیدلی دی د راتلونکی کال لپاره وساتی او ورڅخه شیدی لاس ته راوړی.

ازموينه          نوم: ____________________

ازموينه

## Balance Sheets, Cash Flow, and Income Statements
## د ميزان په پاڼه، د نغدو په جريان  او د عايد په صورت يا شرحه څان پوهول

**لومړي برخه: تطابق (برابرول)**

**لارښوونه:**  لاندي اصطلاح له صحيح ځواب سره برابر کړئ  توري(حرف) د تعريف په اساس وليکئ

| | | |
|---|---|---|
| Assets دارايګانی | Expenditure لګښت يا مصرف | Non-current asset غير جاری دارای |
| Cash flow د نغدو جريان يا بهير | Income statement  دآمد صورت | Non-current liability غير جاری قرضه |
| Current assets جاری دارای | Net income سوچه آمد | Revenue عايد |
| Current liabilityجاری قرضونه | Balance sheet د ميزان پاڼه | |

________ .١    هغه جنسونه چی په يوه کال کی کارول کيږی يا په پيسو باندی اوړی.

________ .٢    هغه پيسی چی لاس ته راغلی.

________ .٣    د پيسو آمد منفی لګښتونه.

________ .٤    هغه جنسونه چی دمارکيټ په نرخ د کار او باری په تصرف کی موجود دی .

________ .٥    هغه پيسی چی نورو خلکو ته دکار او بار د فعاليتونو لپاره ورکول کيږی.

________ .٦    هغه قرضونه چی له يوه کال څخه وروسته اداء کيږی.

________ .٧    هغه مالی سند چی د کار اوبار د شريکانو سهميه  تعين او څرګندوی.

________ .٨    هغه جنسونه چی دمارکيټ په نرخ د کار او باری په تصرف کی موجود دی  او له يوه کال څخه د ډير وخت لپاره کارول کيږی.

________ .٩    هغه مالی سند چی په يوه ځانګړی وخت کی  د مالی تعهداتو  د تامين وړتيا څرګندوی.

________ .١٠    هغه قرضونو چی په يوه کال کی اداء کيږی.

________ .١١    هغه مالی سند چی د ګټی د تعين او تشخيص لپاره کارول کيږی.

**دوهم برخه: پوره کول (تکميل)**

**لارښوونه :** يوه ياڅو کلمي د لاندي جملو د پوره کولو لپاره وړاندي کړئ.

١. د __________ ____________ ارزښتونه د کار او بار د قرض ورکولو و ړتيا (solvency) په تيعن او تشخيص کی کارول کيږی.

٢.__________ __________ د ګټی لپاره يو بل نوم دی.

٣.  د آمد شرحه يا صورت (income statement) دواړه ____________او ____________ لسټ کوی.

٤.__________ له هغی توانايی او وړتيا څخه عبارت ده چی يو کار او بار  بلونه (قرضونه) بی له دی چی کار او بار اخلال شی اداء کولی شی.

٥.    سوچه ارزښت  له __________او ______________ څخه تشخيص کيږی.

**ازموينه**

**نوم :** _______________

## Balance Sheets, Cash Flow, and Income Statements
## د ميزان په پاڼه، د نغدو په جريان  او د عايد په صورت يا شرحه ځان پوهول

**لارښوونه:** د لاندې پوښتنو لپاره معلومات وړاندې کړئ.

١. د کار او بار څښتن څرنګه کولای شي د نغدو پيسو د جريان له صورت يا شرحې څخه د خپل فعاليتونو لپاره کار واخلي؟

٢. هغه درې پړاونه او مراحل تشريح او تعريف کړئ کوم چې د کار او بار د سلامتيا او صحت لپاره اړين دي.

نوم: ____________

## لابراتواری پانه

## Balance Sheets, Cash Flow, and Income Statements
## د میزان په پانه، د نغدو په جریان او د عاید په صورت یا شرحه خان پوهول

**لومړی برخه:**

**لارښونه:** له دوهم لوست څخه د محمود د منو د باغ د سوابقو په پام کی نیولو سره او د لاندی معلوماتو په رڼا کی، د میزان پانه، د آمد صورت او د نغدی جریان صورت بشپړه ( a balance sheet, income statement, and cash flow statement) او تکمیل کړئ .

<u>اضافي معلومات:</u>

1. د محمود د منوباغ ٤٠ دالره په ٣٠ د سپتمبر ٢٠٠٨ په لاس کی لری.
2. د محمود د منوباغ ١٠٠ دالره په ٢٠٠٦ کال کی له "عبدالله" قرضه اخستی وه او هر کال ٢٥ دالره ورکوی تر څو یی قرض خلاص شی.
3. باقی قرض ٥٠ دالره ده ، د محمود د منوباغ ٢٥ دالره د سپتمبر په میاشت ٢٠٠٨ تادیه کوی
4. موجودی په ٢٨ فبروی ٢٠٠٨ ١٥٠ دالره ده.
5. په ٢٨ فبروری ٢٠٠٨، ١٠٥ دالره نغدی په لاس کی دی.
6. هغه پیسی چی د کار او بار د څښتن لخوا مزدور کار ته د ٢٠٠٨ د مارچ د میاشتی له لومړی څخه د ٢٠٠٨ کال د سپتمبر د میاشتی تر ٣٠ پوری ندی ورکول شی ٩٦ دالره دی.

**دوهمه برخه :**

**لارښونه:** لاندی پوښتنو ته په ځوابونو سره د محمود د منو د باغ ( زراعتی کار اوبار) تحلیل او شننه وکړئ. ډاډ تر لاسه کړئ کله چی پوښتنو ته ځوابونه چمتو کیری د پوښتنی ټول اړخونه په پام کی نیول شوی وی.

### نقدینگی (Liquidity)

جاری یا په گردش کی سرمایه –(-Working Capital )

د جاری نسبت –(-Current Ratio )

(Cash Flow Coverage Ratio-)

### د قرضی د ورکړی وړتیا(Solvency)

د قرض نسبت دارای ته (Debt-to-Asset Ratio-)

د شریکانو د سهم نسبت دارای ته (Equity-to-Asset Ratio-)

د دارای نسبت د شریکانو سهمی ته (Debt-to-Equity Ratio-)

### گټه ورکونه (Profitability)

عواید پر دارایگانو (Return on Assets-)

عواید د کار او باری شریکانو په سهمیه (Return on Equity-)

د عملیاتی منفعت د گټی نسبت (Operating Profit Margin Ratio-)

LS: 3-1 کلید نوم: ______________

## د لابراتوار پاڼه

## Balance Sheets, Cash Flow, and Income Statements
## د میزان په پاڼه، د نغدو په جریان او د عاید په صورت یا شرحه خان پوهول

**لومړی برخه:**

**لارښوونه:** له دوهم لوست څخه د محمود د منو د باغ د سوابقو په پام کی نیولو سره او د لاندی معلوماتو په رڼا کی، د میزان پاڼه، د آمد صورت او د نغدی جریان صورت بشپړه ( a balance sheet, income statement, and cash flow statement) او تکمیل کړئ .

<u>اضافي معلومات:</u>

- د محمود د منوباغ ٤٠ دالره په ٣٠ د سپتمبر ٢٠٠٨ په لاس کی لری.
- د محمود د منوباغ ١٠٠ دالره په ٢٠٠٦ کال کی له "عبدالله" قرضه اخستی وه او هر کال ٢٥ دالره ورکوی تر څو یی قرض خلاص شی.
- باقی قرض ٥٠ دالره ده ، د محمود د منوباغ ٢٥ دالره د سپتمبر په میاشت ٢٠٠٨ تادیه کوی
- موجودی په ٢٨ فبروری ٢٠٠٨ ،١٥٠ دالره ده.
- په ٢٨ فبرورى ٢٠٠٨، ١٠٥ دالره نغدی په لاس کی دی.
- هغه پیسی چی د کار او بار د څښتن لخوا مزدور کار ته د ٢٠٠٨ د مارچ د میاشتی له لومړی څخه د ٢٠٠٨ کال د سپتمبر د میاشتی تر ٣٠ پوری ندی ورکول شی ٩٦ دالره دی.

**دوهمه برخه :**

**لارښوونه:** لاندی پوښتنو ته په ځوابونو سره د محمود د منو د باغ ( زراعتی کار اوبار) تحلیل او شننه وکړئ. ډاډ تر لاسه کړئ کله چی پوښتنو ته ځوابونه چمتو کیږی د پوښتنی ټول اړخونه په پام کی نیول شوی وی.

### نقدینگی (Liquidity)

جاری یا په گردش کی سرمایه –(Working Capital-) $85 - $25 = $60

د جاری نسبت –(Current Ratio-) $85 / $25 = 3.40

(Cash Flow Coverage Ratio-) ($105 + $180) / ($58 + $25) = 3.43

### د قرضی د ورکړی وړتیا(Solvency)

د قرض نسبت دارای ته (Debt-to-Asset Ratio-) $50 / 270 = 0.19

د شریکانو د سهم نسبت دارای ته (Equity-to-Asset Ratio-) $220 / $270 = 0.81

د دارای نسبت د شریکانو سهمی ته (Debt-to-Equity Ratio-) $50 / $220 = 0.23

### گټه ورکونه (Profitability)

عواید پر دارایگانو (Return on Assets-) $252 - $96 / $270 = 0.58

د شریکانو په سهمیه عاید (Return on Equity-) $252 - $96 / $220 = 0.71

د عملیاتی منفعت د گټی نسبت (Operating Profit Margin Ratio-) $252 - $96 / $310 = 0.50